داکتر صلاح‌الدین سعیدی ۲۰۲۶/۰۲/۰۳

# از تنظیم امورتوسط قانون باید استقبال کرد!

**( په جزايي موضوعاتوکي د طالبانو د محاکمو په جزايي اصولنامي کره کتنه!)**

در جوامع حاکمیت قوانین خوب و مشروع متداول امنیت روانی در پهلوی سایر تدابیر ایجاب ایجاد قوانین، مقررات اصولنامه خوب در مطابقت به سطح انکشاف جوامع بشری را میطلبد که توسط آن حاکم و رعیت، حاکم و شهروند هردو حقوق و وجایب خود را بدانند. بدانند که از اگر از اشارۀ سرخ ترافیکی بگذرد چه سزای متوجه اش است واگر به خانه و حریم کس تجاوز کند، صاحب خانه حق دارد از خود دفاع و حتی با وسایل ناریه و تفنگ را در مقابل متجاوز بر حریم خانه اش به دفاع برود و حاکمیت از مردم تکس و مالیه میگیرد که امنیت اش را تأمین و خدمات برایش تقدیم بدارد که خواست ملت است.  من مشکوک و مظنون وپولیس چک پوست امنیتی  باید بدانیم که اگراز چک پوست پولیس فرار کنم و پولیس یونفورم دارد وبا شرایط لازم چه وسایل و چه اجراات وبه چگونه علیه من بکار برده میتوانند و در صورت ضرورت، چند فیر مرمی و در کجا به جانب من کرده و در وقت دستگیري بعد از زخمی شدن و به زمین افتادن، چند مرمی دیگر وقنداق زدن حق دارد و یا نه و والی ژورنالست را بعد از زدن به خانۀ شخصی ومحل نا معلوم  برده میتواند ویا نه؟ همه و همه در امنیت  وآرامش مطلوب درحاکمیت قانون و مقررات و مقررۀ قانون اجراات جزایي **( په جزايي موضوعاتو کي د محاکمو جزايي اصولنامه)** وسایر قوانین مرتبط کارمندان دولتی و امنیتی باید ازقبل، مشروع و متداول،  تنظیم شود و ما برای داشتن چنین اصول نامه ها، مقرره و قانون از چارونیم سال به این طرف یعنی از زمان رسیدن طالبان به حاکیمت ضرورت داشتیم و داریم!
منطق حاکمیت قانون و امنیت راستین درین خصوص دهها سال قبل به مناسبت های مختلف هدایات، رهنمود هاي بدون تردید وجود دارند و درین خصوص از حاکمیت دیفکتوی امارت اسلامی تأکید ات  و خواسته های  تحریری و شفاهی وجود داشت ودارد. وزیر و رئیس که شرایط انتخاب و صلاحیت اش در قانون روشن نباشد، حاکمیت قانون و اطمینان کما حقه ایجاد کرده نمی تواند.  این مطالبات مطالبات حاکمیت قانون و نظام عدالت محوراست.
من مانند حقوقدان از انقلاب و تشدد که موجب تعلیق قانون و سیستم و قوانین نافذ شود، دوست ندارم. اما در جهان انقلاب ها و تغیرات سیاسی به زور تفنگ، بمب، سرنیزه و زور واقع شده و میشوند.  حکام هوشیار و عدالت محور و دلسوز بر ملت، بعد از انقلاب و تغیر حاکمیت در مدت کوتاه (یک هفته دو هفته ) میایند و میگویند تغیرات ضرورت و برحق بود و ما به آن مجبور ... اما حالت تعلیق قوانین و مقررات حالت مطلوب نیست و ما نام گرفته این ... قوانین و ... مواد را در قوانین قبلی ملغی و این ... مقررات را تغیر و در بقیه موارد تمام قوانین قبلی تا تغیرات لازم نافذ و مرعی الاجراء اند و درموارد.... به اساس این قانون مدون ونافذ و ... اجراات صورت میگرد. کمیته های عاجل برای تدون سایر قوانین و سکتور ها مربوط برای مدون سازی قوانین و مقررات مربوط تا یک ماه، سه هفته، طرح های خویش را به کمیتۀ ... سپرده و ... تنظیم میشود. به این ترتیب امنیت و آرامش شهروند و رعیت  بهتر و برای امنیتی روحی و روانی وزندگی در قانون و نظام کار عملی صورت میگیرد. اما طولانی شدن تعلیق قوانین برای چیزی کم پنج سال و یا لایتناهی قابل قبول نیست و بوده نمی تواند و امنیت در حالت عدم وجود قوانین مشروع و مدون، امنیت نیست!
ما از مدون سازی فرمان و مقررۀ، از اصولنامۀ  (قانون) امر بالمعروف و نهی عنی المنکر و این اصولنامه و مقرره ( قانون)  اجراات جزایی محاکم، حاکمیت طالب، صرف در سطح تلاش تنظیم قانونی سازی امور و روشن کردن قواعد کار به صورت مدون حکام، محاکم و رعیت و شهروند استقبال میکنیم و این فکر را یک حرکت مثبت تنظیم

زندگی به اساس قانون میدانیم که میشود مانند یک مسودهٔ اولی (گرین پیپر – درافټ) برای نهایی سازی مشروع و مدون بکار گرفته شود. ( اگر قیاس مع الفارق نه شود، مثلاً در انگلستان برای تدون قوانین ۹ مرحله راسپری میدارند که سند، ډرافټ و پیش نویس اولی اش را گرین پیپر مینامند!).
اما نشر فرمان امربالمعروف و نهی عند المنکر و این سند واصولنامهٔ در مورد ویا به نام (اجراات جزای محاکم طالبان – امارت اسلامی ) حاکمست دیفکتوی طالبان – امارت اسلامی، واقعاً در موارد زیادی میلنګد و عصر خفته.
در قانون آوردن پاورقي ها، حواشی و حواله ها و آن هم حواله های به کتب مجتهدین قرون قبلی معمول و مقبول نیست. این حواله ها و حواشی برای بحث و تصمیم گری این و آن مادهٔ، قانون و طرزالعمل ممکن در مرجع نشستهای قانون گزاران ویا طی کتاب تشریح این قوانین برای قناعت یکدیگر، توجیه داشته باشد ولی در پاء ورقی و از چنین منابع، کتب قدیم فقه وسایر مجتهدین بخش از فتوای شان، در تحت تأثیر زمان و مکان متفاوت را اتکاء کردن، موجه و درست نیست.
علت آوردن این حواشی و پاورقی ها ملحوظات ذیل بوده میتواند:
درک قانون گزار موجود ازینکه قوانین و مقرارات موجود را به صورت غیر متداول و غیر متعارف و غیرمشروع پیشکش و تحمیل میدارد. این حالت به صورت منطقی با اعتراض عدم مشروعیت داخلي و خارجي مواجه خواهدبود که با مراجعه به کتب سابق فقه و تلاش مسؤولین طالبان به زعم و محاسبهٔ خود با گویا مراجعه به این فتاوا و حواشِ آن، ازقبل قبل ختم شده تحمیل میدارند. عدهٔ شان گمان دارند که با بیسواداان کدام قریه موجه أند. تلاش دارند که به صبغهٔ دادن و ټاپهٔ دین، به قبول بلا شرط وقید و قبول کور وکر تأکید و تلاش دارند. در حالیکه صبغه و مهر دینی به مراجعه به کتاب الله و سنت رسول الله (ص) ممکن است، اما درین حواشی و پاء ورقی ها، ۸۰ فیصد آن مراجعه و اسناد، به کتب فقهی قبلی حواله شده، تا مراجعه و ادرس دادن به کتاب الله وسنت رسول الله (ص). در حالیکه در هردو حالت زبان این هرسه مرجع و استنباط را متخصصین فن و مسلک، را مجتهدین و علمای مربوط میداند و برای عوام و حتی تعداد زیادی خواص، ضم این اصولنامه و قوانین، متون عربی که حتی ترجمهٔ آن برای استنباط درست حکم شرعی عوام را کمک نمی کند، نه مشکل را حل و نه آن هدف برآورده میشود.
اگرحتی متون قرآن کریم با ذکر ترجمه در پیشگاه ملت به زبان محل ترجمه و پیشکش شود و برای شان انتخاب و فرصت استنباط احکام داده شود. تصور کنید از متن ترجمه شده ای مثلا حدیث: ( من رأی منکم منکرا فلیغیره بیده... کسیکه از شما امر منکر را دید [شمشیر بردارید ] و آنرا به دست تغیر دهید. فقهاء وعلمای اسلام به اتفاق آراء به این نظراندکه تغیر امرمنکر کار هر مسلمان در جاده شمشیر برداشتن و تغیر دادن نیست که اینجا و آنجا بعضی از علمبرداران افراطیت مرتکب میشوند. دربین افراطیون دینی تعبیر وجود دارد که بلی این کار حاکمیت اسلامی است تا منکر را متوقف سازد و متخلف را مورد پیگرد عدلی قرار داده، مجازات کند. اما آن وقتیکه حاکمیت اسلامی قایم میشود واین کار را میکند، این کارهر مسلمان است که این وظیفه را اجراء کند. این تعبیر او این حکم به صورت یقینی غلط و مرتکب آن باید مجازات شود. اما در حاکمیت طالب چند تن از این افراطیون که خلاف فرمان عفوه شان انسانها را کشتند، مجازات و مورد پیگرد قرار گرفتند. دنیای ما دنیا امتحان و فرصت انتخاب در وجود هدایت الهی و وجود علمای دین و رسیدن پیغام حق برایش میباشد. اما انتخاب و گرفتن پاداش مطابق انتخاب کار هر شخص است و اگر الله تعالی میخواست (کن فیکن) همه را قادر بود به قدرت لایتناهی خویش، مسلمان و پیرو حق میکرد، که این خلاف فلسفهٔ وجودِ این عالم ماست.
ترجمهٔ بدون ارتباط متن از آیهٔ (۱۹۱/ سورهٔ بقره:) که شأن نزول، درجای و مکان خود و سیاق خود را دارد و عوام با این ترجمه حکم استنباط وعمل کنند: واقتلوهم حیث ثقفتموهم و أخرجوهم من حیث أخرجوکم ... : کفار/ مشرکین را در جایکه یافتید بکشیدو بیرون شان کنید چنانیکه شما را خارج کردند....، به یقین میدانیم که شأن نزول آین آیه و حکم آن به این ظاهر، درست نیست و چنین ترجمه و حکم استنباط نمی شود. این و دهها مورد دیگر که برای عوام غیر مسلکی فرصت استنباط حکم و فتوا را نمی دهد. لذا آوردن این پاورقی ها و حواشی از رد المختار و ... برای قانون گزار و مقنن مطرح و به مردم عادی برای کسب و تعلیم ممکن مطرح باشد اما در چوکات قانون و اصولنامه، اصلاً درست نیست و کار بی جا نیز است. در قانون صرف مندرجات صریح و روشن قانون آوردن ضرورت است تا این تفاصیل غیر ضروری برای شهروند در چوکات قانون. اگر شهرون شوق خواندن رد المختار و سرخسي و ... داشت، باز به مدرسه شامل و به انترنت مراجعه ومراجع دینی، داخله خواهد کرد. این پاورقی ها و حواله ها و حواشی درین جاء عصر خفتن و بی خبری از عنعنهٔ قانون و حکومتداری است که با زمان ومکان و سطح انکشاف جامعه و امکانات مدرن مطابق داشته باشد. دز زمان برده گی، در زمان کاروانسرا و در زمان استفاده از شتر و قاتر و ... قوانین و اصول نامه ها تنظیم کنندهٔ همین موارد و مرتبط است.

په افغانستان کې د طالبانو دحاکمیت موجودیت او د تېرو نظام د سقوط واقعیت دا په څپله ثابتوي چې عادل او جابر پر حق او ناحق حاکمیتونه څي او راځي، ډېر راغلل زور ور وه ، کمزوری شول او نوي حاکمیتونو یې ځای ونیوه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځېر و لولئ

اما ملت او تاریخونه او د هغوی قضاوت او د الهی عدالت مو په مخکې دی. او دا قضاوت او عدالت به بیا هم وجود لري.
هوښیار حاکمیتونو او حکامو، په وخت خپلو تېروتنو ته پام اړولای او د رسالت ادای یې کړې. جبروت او د استکبار حاکمیتونو دا واقعیتونو ته توجه او پام نه دی کړای او یا داسي هم شوي چي هغه وخت خپل استکبار او تېروتنو ته متوجه شوي چي بیا وخت له وخته تېر وي.
په دې سلسله ددغي د محاکمو د اجراات جزایی فرمان په هکله تاسي سره د فرمان د متن سره سم په ترتیب خپلي نوری تنویري ملاحظي او یادداشتونه شریکوم چي بعضي يې ډېري وړې او ابتدایی او بعضي ډېري جدي او بنیادي دي. شنو خطونو باندې به نښه شوي زما املایی تېروتنو کي زما سفارشونه دي!
**درین نوشته جهت کمک به قانونیت و امر خیر و دفاع از فکر و اندیشهٔ دولتداری خوب اسلامی و در خدمت حق و عدالت ادای رسات خدمت شما ملاحظات ذیل به ترتیب ایکه درین فرمان و مقرره؟!، آمده است ذیل تقدیم میدارم تا سبب ساختن شویم تا سوختن:**
میخوانیم:
ستره محکمه – قضایی معاونیت – د دارالانشاء عمومي ریاست – د تحریراتو آمریت – د متحدالمال څانګه
موضوع: **په جزايي موضوعاتو کي د محاکمو د جزايي اصولنامي** عملي کول. والسلام
مفتی عبدالرشید «سعید»، د ستري محکمي، د دارالأنشاء عمومـــي رئیس، ۱۴۴۷ /۷/ ۱۸
drrulinsha@gmail.com, tel.: 0202301138/ ګنه ۱۲ - ۱۴۴۷/۰۷/۱۵ هـ ق.
د محاکمو جزایی اصولنامي د انفاذ په هکله د عالیقدر امیر المؤمنین حفظ الله تعالی فرمان.
ددې مقررې او یا اصولنامي ډېرې مادې د محاکمو د جزایی اجراأتو پر ځاي (چي قانون اجرات جزایی شي) ددې مقررې په چوکاټ کي د جزا د قانون بحثونه او مواد داخلیږي چي دلته ستره مغالطه جوړوي، داهم مغالطه چي دا قانون، اصولنامه اویا مقرره او که قانون؟ مقنن هم په کي تېروتنه کوي او دا مطالب سره خلط او مزجوي.
**تبصره:** قانون پوهان د ۱/ حاکمیت او ۲/ خلکو( معاقبه او محکمه کېدونکي) د حقوقو او وجایبو د کار د طرز العمل، قاعدو او أمورو روښانول او مدونول او په دی برخه کي د مقررې، قانون، او یا فرمان په بنه مدون اصولنامو، مقررو، قوانینو، رهنمودونه مشروع تدوین او وړاندې کول او د حاکمیت د اجراأتو روښانه قاعدې تنفیذول کوم کي چه وجایب او مسؤولیتونه معلوم شي، کلکه استقبال او ملاتړ کوو او دهغوي مشروع ؟ مدون أصل ته د لمړې قدم په توګه دا سند هم د يوې مسودې په توګه، مثبت تحول ګڼو.
اما داچي له هیڅ مشروع او متداولو اجراأتو پرته په دغه ډول نهایي او تحمیل شي، له سره دمنلو نه دی.
لومړی ماده: **د محاکمو جزايي اصولنامه په (۱) مقدمه/سریزه، (۳) بابونو،(۱۰) فصلونو او (۱۱۹) مادو کي توشیح کوم.**
دوهمه ماده: دغه فرمان د توشیح له نېټي څخه نافذ او د یادې اصولنامي له متن سره یو ځای په رسمي جریده کي خپور شي.
تبصره: فرمان په انقلابي شرایطو کي صادریږي. په انقلاب (موجه اویا غیر موجه) کي د طالبانو انقلاب؟! چي تیر نظام یي رنګ کړا! حد اکثر دوه دري اوني روسته، نوی حاکمیت بیا د لنډ مدت او یا عاجلو مواردو کي او د لنډ مدت لپاره فرمانونه صادرولای شي خو نور د قانون ګزاری امور مشروع، مسلکی مراجعو ته سپاري او د فهم وړ خبر ده چي د اداری لمړی کس جامع الکمالات نه وي.
د اسلام په صدر کي د راشده خلفاوو به وخت کي هم د هرچا دکار برخه معلومه وه. د نظام او قانونیت د ساتلو لپاره دغه... قوانین او دغه مقرراتو کي دغه مواد ... مو داسي او ... مقررات او قوانین مو لغوه کړل او پرځای مو ... نافذ کړل. دغو برخو کي ځانګړې کمیتو په کار پیل وکړه چي نوي ، عادل، اسلامی ... نظام اساساتو ته قانونی مقدمات او لاربسووني برابري کړې چي **حاکمیت** او **رعیت**، ملت، وګړی له هغه خبر او **دواړې خواوې (حاکم او رعیت)** يي رعایت يي پردواړو خواو حتمي دی. د امنیت او رواني امنیت او قانونیت خبره د مشروع ، مدونو، ښو قوانینو او مقرارتو په شتون کي مطرح کېدای شي. مدني دیموکراته؟! تولنه د ښځو ته د فرار او یا د آمن په کورونو کي زمینه سازی او د ښځي او یا مېړه حقونو تلفولو و فحاشت ته د مؤقتو نکاح او رسمي فاحشه خانو لاري خلاصولو ته زمینه سازي او ورته مبتذلاتو کي، لار جوړه او خلاصه کړې ، منلو وړ نه دي. زمونږ د ملت غوښتنه او اراده، ایمان او عقیده د اسلام د مقدس دین د اصولو په چوکاټ کي ده او هیڅوک دا نشي کولای چي دیموکراسی په نامه پرمونږ خپل غیراسلامی ارزښونه، تحمیل کړي. اسلام دین او اصول د دنیا او آخرت دین دی اما دا ملاشاهی دین هم نه دی. کار اهل کار ته سپارل دیني مسایلو کي د ملا او دینی عالم او نورو کي د قانون په شمول د مربوطه متخصصینو کار دی. د افغانستان قوانینو کي د ملا او مدرنو او اوسني عصر قوانینو متخصصینو شتون حتمی دی. دا تخصصی شتون او یا هلته لیرې د کلي ملا د قانون او مقررې ته مشروعیت نه ورکې. د مشروعیت موضوع د افغان مجاهد ملت اود هغو د مخکښو علماو اواسلام حاکمیت مشروع اراده او تمثیل ته عملی او متداول کار، حتمی بلل کیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

داچي څه کم پېڅه کاله تېر قوانين عملاً معلق او يا ملغا، نوي قوانين په مشروع او متداوله توګه نافذ او اجراوي نه شول، او عملاً د قانون تعليق او خلا منځ ته راغلې ده ، لسهاو مستقيم او غير مستقيم تاوانونو سره افغان ملت مواجه او په نړېږواله کچه منزوی کړای شو. د امريکي او روس، چين او ايران او هند به مشاجرو او مشالفتو او د اوکراين او روس او د مېنځني ختيځ د جګړو تر تأثير لاندي يو شمېر نړېوال تعلقات جوړول ته بريا لا نه ويل کېږي.
دا حالت، حد اقل د تأسف خبر او په داخل او بهر کې و لو په غير عمدي ډول ډېر ناخوالي مېنځ ته راوړي. دا لاقانوني حالت سليم عقل، عالم او حقوقدان نه شي منلای. داکفايت نه کوي چې د اسلامی شريعت تطبيقوو. دلته د اسلامي شريعت به نامه کوم مدونځ واحد منل شوای کتاب نه شته. شخصی فتاوي جدا جدا مدون او مشروع بني ته اړتيا لري. داسي د لاقانونه حاکميت کې د امنيت د وجود تأکيد د موضوع ډېره انحصاري او نادرسته پوهه ده او دي ته امنيت نه شي ويل کېدای. بيا بيا: امنيت د **حاکم او رعيت دواړو** ته د هغوي د حقوقو او وجايب ښکاره او ليکلې، مدونه او مشروع اړتيا وه او شته.
داسلام د حقوقو اصلي منابع او ارزښونه ( دغه برخه کې ۵۰۰ پاڼو کې چاپ شوای ريسرچ لرم. ۱۹۹۴ م. )، چې **قرآن کريم** او **سنت د رسول الله (ص)** د اسلام د فقه او قانون اولی او اصلی منابع دي. ارزښونه په قرن او کال نه اندازه کېږي. الهی ارزش او معيار ثابت او په خپل قوت دايم ولاړ دی. د اسلام د اصلی منابعو نه برداشت او د بشريت د علم او پوهي په رڼا کې د نوي لاسته راوړنونه استفاده يوه حتمی خبر ده. د اسلامي حقوقو **دريمه منبع** د قرآن کريم او سنت رسول الله روستی يعنی **اجماع** او **قياس (انالوګی)** او خصوصاً دا څلورم اصل يعنی انالوګی او قياس دی چې د اسلام دين او قوانين د عصر د لاسته راوړنو سره برابر او همزمانه قوي او عملی جانب ته مدرن امکانات په خدمت کي ورکوي او دا قياس (انالوګی) داسلامي حقوق څلورم اصل دی. **استحسان، عرف ومصالح مرسله** دي چې حقوقدانان له هغو به استفاده په اسلامي ټولنو کې مدرن او د عصر د انکشاف سره برابر قونين و او مقررات جاري کوي او امور بهتر تنظيموي. په دغه برخه کې الحمد لله به کافی اندازه موارد او منابع لرو.
داسلامي نظام جزايي سيستم کې دوه برخو کې ويشل کيږي:
۱/ حدودي (زنا، قذف، شرابخوری – چې په کلکواثباتي مقرراتو مهار شوي او اکثر په عمل کې د تحديد، اِنذار، وقايه او تربيت په برخه او ساحه کې پاتي کېږي. او شارع په هر قيمت په دغه برخه کې دهغه دعملي تطبيق تلوسه نه لري) . شرعی هدايات دا دي چې حتمی نه دی د پټ اجرا شوي تخلف د اجرا برخه کې چاته خبر ورکړل شي. توبه او استغفار او له ګنه نه د لېرې کېدو امر شته اما خپله حاکم ته تګ او خپل تخلف بيانول نه دي په کار ( ډېر جزييات لري!).
۲/ تعزيزاتي: هغه چې د حاکم او مخکي اعلان شوو مستندات د قاضي په خوښه نه بلکی قاضي د قانون در مجري په واسطه د قانون په ټاکل شوي اصولو او رهنمودونو، اثبات کيږي.
له جزا نه اهداف او موخي د عدالت تأمين، دټولني د نظام ساتنه، تربيه (متخلف بيرته ټولني ته سالم را اړول او راګرځول)، اِنذار، انتقام ( انتقام اوقصاص د عدالت په معنی چي يعنی د چا پلار چا مرکړ، مظلوم ته عدالت ورکول) ، تذکيه ( فقهي اصطلاح: پاک او حلالول او اقرار چې الله تعالی بنده ته د جرم د قبلولو به ذريعه پاکي به نصيب کړي.) او... ددې خواو هره برخه بايد د قانون جوړونکی او نافذکوونکی په نظر کې د مشروع نافذ او مدون قانون په رڼا کې ونيسي.
داچي دغه دنيا کې مطلق عدالت نه شته او عدالت نسبي مفهوم دی، او زمونږ نړی کې د عدالت د سمبول تمثيل په يوه کس چي سترګي يي تړلي او ترازو يي لاس کي ده، ددي مانا داده چي دا دنيا عدالت او د قضا منصب او حکم دهغو مستنداتو او ثبوتونو پر بنياد کيږي او ولاړ دی چي هغه اسناد او ثبوتونه محکمي او قاضي ته مخ ته ايښودل کيږي، قاضي او د هغه قضاوت د مستنداتو او قانون سره سم (نه دده دشخصي قضاوت په چوکات او نه دده دشخصی باور او عقيدي سره ) د قانوني پيژندل شوو ثبوتونود مستنداتو پر بنياد کېږي اوپوځي پر همدې مستنداتو حکم صادروي کوم چي محکمي ته د محاکمي په جريان کي وړاندي شوي. حکم د استخباراتي معلوماتو پر بيناد هم عدالت نه دی. يعني دلته يوه باريکي او هغه دا چي قاضي شخصی فکر او سوچ او باور يا شخصی معلومات اويا دا چي کوڅه او محله کي يي له همسايه او خاله څخه څه اوريدلي، او خپل حکم پر هغو بيناد کړي، عدالت نه بلل کيږی. او پردغه منابعوحکم نه شي صادرولای.
داسي ښکاري چي دغه قانون ( او د طالب د قانون په حاکميت او دغه اجراات جزايی مقرره کي له سره داپورته ملاحظات په نظر کي نه دي نيول شوي او د جناب مجاهد دطالبان ديان مصاحبي به دغه هلکه زما پورته استنباط قوی کړ. دغه مقرره کي او دطالبانو د ويناد ، جناب مجاهد د اظهاراتو نه داسي معلومېده چي د جزا موخه تربيت او يا قاضي د آزاد قضاوت پر بنا ولاړ تأکيدات دي.
د نړی د جوړي هيئت او هغه لس تنه چي په مهمو جرمي قضاياو کي د ملت د اطمينان او د عدالت دتأمين او عدالت سره د مرستي لپاره محکمي ته احضار او محاکمه کي د ګډون وجيبه ورپه غاړه کيږي تر څو د محاکمي ټول جريان د قاضي سره يوځان واوري او بيا قاضي ته د قاضي د هغه حکم د صادرولو مخکي خپل لس کسيز حکم او قضاوت واوري، مقصد او مرام دادی چي عدالت سره مرسته وشي اما د ټولو نه د مخه د جوري هيئت ( منصفه هيئت ) سره


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

دتاکني په وخت کي تفهيم کيږي چي دهغوي قضاوت د افاقي معلوماتوپر بنا نه، بلکي د محاکمي په جريان کي د راوړل شوو مستنداتوبر بنياد ولاړ مستندات د قبول وړ بولي.
د اثبات برخه کي د اسلام د حقوقو د اصلی منابع سره سم دعدالت په برخه کي د بشريت علمی لاسته راوړني( د قياس - انالوګی) پر بنسټ پراخيږي او زموږ جزايي سيستم هم نوي امکانات ترلاسه کوي چي بايد وکارول شي.
لويه جرګه کي طبعي اتوريتي، اشراف ، لوړ قشر (تاسي ورته طبقه کارولي) ملک او خان تر ډېر حده يو ټولنيز معيار دی خو نن سبا د وګړي او دهغه د طبعی حقوقو، کره وړه پرتکنالوجي، دات بس او سوسيولوجی او سيکاتتريست تحقيق، طب عدلي او کرمنولوژی باندې موثر او ښکار سنجول کېدای شي. د جرم او جنايت او ښه والي سابقه، د سيکالوژيست او ټولني شناس د مدرنو امکاناتو په دا مسايل روښانيږي. اصل او کم اصل تشخيص نوي وسايل او نوی معيار او شکل پيدا کوي، چي دغه مقرر او قانون کي دا ټول او يا اکثر ددې نوي فرمان ( د محاکمو د جزايی اجراآتو مقررې ) کي د نن قاضي په جامع الکمالات پوهي او ګويا د رد المختار او ... په تله تلل شوي او وړاندې شوي.
اسلامي جزايی سيستم د زنا د پوره او کره ثبوت لپاره د ۴ عادلو، غير فاسقو، مسلمانو ... شاهدانو شته والی او د زنا دقيق تعريف او د شهادت شرايط داسي سخت بيان کړي چي ښکاري، شارع دلته د انذار، وقايي او تربيت لوري ته سخت دقت کوي او د کره او موجه ثبوتي دلايلو د نه شتون په شرايطو کي د تطبيق موضوع منتفی ګڼي. د تذکيې/ تزکيې حالت اصل چي مظنون او يا مشکوک اويا متهم پرې اقرار کوي هم ډېر مهم او جدا بحث دی چي د نن مستنطق مکلفوي چي د اقرارسره د تخلف انګيزه او ريښتيا والی په نورو شواهدو ثابت کړي. داهم ډېره مهمه دی چي: الحدود تسقط باالشبهات (حدودي جزاګاني د شکوکو په صورت کي ساقطيږي. او هغو چي اتهام وارد کړای له ثبوته پرته اتيا دُرې وهل کيږي. ( متن صريح دقرآن کريم دی!) او بل حديث کي الحدود تُدرَل بالشبهات. چي بيا هم د شبهو وجود په صورت کي د حدودي جزا ګانو برخه کي هدايت دی.
د اسلام ستر پيامبر ص وايی چي که فاطمه بنت محمد ص سرقت وکړ لاس به يي پرې شي. اما له بلې خوا کله چي د حضرت عمر رض په وخت کي قحطي راغله آنحضرت يو کال د قطع يد (د لاس پرې کول) د سرقت په مقابل کي د جزاء تطبيق ځنډولای او د مخمسي حالت هم جدا بحث دی.
د تعزيراتي جزاګانو برخه کي د ديفکتو حاکميت د امارت اسلامی د حاکميت دا مقرره ډېرې د تأسف وړ او بنيادي نيمګړتياوې په پورته برخو او نورو مواردو کي لري چي په رأس کي يې د مشروعيت مسئله ده.
لمړی ماده کي زه رعيت او وګړی او زه حاکم ، هغه وخت مکلف يېم چي قانون او مقرره مي په لاس کي وي. او هغه هغه وخت ميسره ده چي نشر شي. دلته د نشر نه مخکي او د راسيدو او لاسرسی نه مخکي فرمان نافذ او مرعي الاجرا، ګڼل شوای.
په فرمان کي ليکي: والسلام عليکم و رحمة الله وبرکاته!
مخاطب په اول کي او يا بل چيرې ذکر نه دی. به دفتر په مأمور او که په ملت سلام وايي؟
دلته د امير المؤمنين جناب هبة الله أخندزاده د افغان د امارت د امير په توګه فرمان امضاء کوي. دا د نور القابو ذکر دلته غير مثبتو اما دلته غير مرتبط او دلته غير ضروري القابو ذکر ته اړتيا نه شته. معمول د امير د امضاء سند دفتر ته ليږل کيږي او دفتر چاپ او نشر ته مکتوب ليکي (پروتوکلي بحث).

**اصل متن:**

**د طالبانو د حاکميت د محاکمو جزايی اصولنامه**

تبصره: دا سند چي ورته د قانون اجرآات جزايي معادل کلمه وکاروو له ځلورنيمو کلو يعنی د طالبانو دحاکميت د راتلوسره سم ورته اړتيا او غوښتنه وه د هغه ددې اصولنامي او قانون د موجوديت په ضرورت باندې د عدالت د تأمين لپاره تأکيد شوای وو او دا مستقيمه د طالبانو د ويناد او نورو مقاماتو سره په مرکو او مطالباتو کي مستدل کړای شوي هم وه. خو په تأسف اوس مېنځ ته راغلی او هغه هم دفرمان په بڼه د لسهاوو تېروتنو سره. ددې مانا نه ده چي پاس خلک بيسواده او يا نشي کولای فرمانی د قوانينو د انفاذ لاره غوره کړي. اما نه کوي. او دا تصادفي نه ده.
مقدمه که سريزه؟ د مقدمي او سريزې څه فرق. دلته به سريزه هم پېنتو او هم مناسبه وای.
لومړی ماده: دوه نقطي لازمي دي؟ زه فکر کوم او زما برداشت دادی چي نه.
په محتوا کي بيا د امير د غير مرتبط القابو ذکر اضافي ذکر دی، چي دلته بوازې د اسلامي امارت أمير، ذکر کافي دی.
دا اصول، مقررات او يا قانون دی؟ شکل اصول، محتوی مقرره او بيا محتوی د قانون مندرجات لري. مشخص کړای شي. د طالبانو د حاکميت د راتلو سره نور مخکي ورته قوانين نافذ قوانين او بيا د هغو پر بنياد اجراات معلق يا منسوخ دي؟ او که منسوخ دي، دا لاقانونه حالت اجراات قانونی دی که يه؟ زه فکر کوم د قانون دتعليق حالت په هيڅ ټولنه کي د منلو وړ نه دی.
مقدمه کي: له اصولو اوقوانينوڅخه مراد: لومړی ماده: په دې اصولنامه کي له اصولو او قوانينو څخه مراد، هغه اصول او قوانين دي چي د عاليقدر امير المؤمنين ... لخوا تأييد يا توشيح شوي وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

ددي جملي او فقري په برخه کي: آيا د ټولني د ټولو ساحو د اجرات برخه کي د تېرو قوانينو لغوه اويا تأييد فرمان شته؟ آيا په ټولو موارد کي نوي فرمانونه صادر شوي اويا د قانون دتعليق حالت دی چي تېرقوانين عملاً ملغی او نوي مشروع او مدون قوانين نه شته. په حواشي او پاورقيو کي د نورو کتابو په حواشيو استناد شوای دی. له کومه سند او مشروعيته ددغه کتابو نهايي په پايلو اتکاء او دستآوز وړاندي شوای. به کوم مشروع قانون کي ذکر او پته ورکړل شوي چي دغه کتابو باندې چي شمېر يي کم نه دی، بايد استناد وشي؟ د مرجع په توګه وکارول شي، او که وشي، په کوم مشروع او مدون فرمان؟

اصطلاحات که اصطلاح ګاني او که اصطلاحګاني؟ کوم يو درست دی؟

دوهمه ماده: لاندې معناګاني افاده کوي: مجهول او غير دقيق اظهارات:

دقيق: ... هره اصطلاح لاندې معنا لري.

پاورقي: د قانون او مقرراتو لپاره توضيحي کتابو کي دلايل او د معين حکم علت بيانېږي چي هغه جدا کتابو کي چاپ او عامه پوهاوي ته وړاندې کېدای شي او په قانون داسي ذکر له سره لکه څنګه چي مو اوس پورته توضيح کړل بيا حواشي راوړل، د منلو وړ نه دی، اضافي بحث دی. په دې توګه د قانون مجريان يا څان باندې باور نه لري او يا پوهېږي چي کره لار دقانون د تنفيذ لپاره نه کاروي. ددي پاورقيو او حواشيو راوړلو عوامل په يي څه وي؟

په ملاحظو او پاورقي کي راغلي چي: طاعة الامام واجبة. او دپاورقيو په ملاحظه هڅه ده چي دا اصولنامه (قانون) موجه والي ته ددي بنې مستنداتو راوړولو قناعت ورکړل شي، او له ملته د پوښتني حق واخيستل چي مستندات حواشي شي او توشيح د امير. د امام د غوره کېدو، مدت او تکلاری، مشروعيت و عدم مشروعيت په هکله پوښتني لا ځوابه او يا چندان عامی معلومي نه دي.

**د اصطلاح ګانو دوهمي مادي پاورقي:**

۱۲- متهم: فقره کي د مشکوک، مظنون او متهم مفاهيم د مغالطي او سؤ استفادي فرصت دی او دا دقيق درستي افادي نه دي. د شهادت سره د نور دلايلو پرته د بي عدالتيو موجبات برابروي. په نړېواله کچه په قانون کي ددي هر يو تعريف او مقام شته او دا هريو ځانته شرايط حقوق او وجايب لري.

په ۱۳ فقره کي مجرم: کي د اصطلاح ګانو په اړه د باصلاحيته محکمي د نهايی شوي حکم خبر نه ده شوې. حکم هرمحکمي کي صادرېږي اما هر حکم نهايی نه وي. د استئناف امکان وي چي قوانينو کي دا مسايل اوږد بحث لري.

بياهم ددي پاورقي د حوالو په هکله او هلته د کتابو نوم اخيستل او استناد کول په کوم قانون کي دغه منابع د منبع په توګه شمېر شوي او ددي مشروعيت د مرجع په توګه چيرې راغلای چي منابع وي او نور دې او د نورو اسلامي ورته منابع چي ددې مخالف دي، منابع دی نه وي؟

۱۵ متکرر مجرم: هغه حالت چي د متکررحالت د مدت په تېرېدو پاک شوای شمېرل شوای وي.

دريېمه ماده

د اسلامی امارت محاکم ددي اصولنامي د تطبيق مراجع دي.

تبصره: سارنوالي/څارنوالي او پوليس ( عدلي او قضايي سيستم په کل کي ) ددي اصولو د تطبيق مراجع نه دي؟

د لمړي باب ۱ حاشيه او پاورقی کي د کوم سلطنتي نظام او حاکميت خبره روانه ده چي ملت پرې خبر نه دی؟ او بيا بيا دا مراجع په کوم قانون او قانوني مرجع کي د مرجع او سند په توګه کارول کېږي، ولي دا او ولي نور کتابونه نه؟

لومړی فصل

څلورمه ماده

۱ فقره: حد مقدر او معلوم دی او تعزير د امام رأيي ته مفوض دی.

تبصره: دلته بعض عدم دقت شته. د حد د جزا او د تعزير د امام درأی خو مدون او مکتوب جزا خبر ده. د حاکم رأيه هم بايد صرف د مدون او ښکاره روښانه شوو اصولو او مستنداتو به رڼا کي د سند او قانونی مستنداتو به تطبيق کي د حاکم لپاره هم وي.

**نه حد او نه تعزيز دشبهي به صورت کي د جزا موجب او د جزا د تطبيق وړ دی.**

تعزير هم بايد په ثابته توګه بي دغدغي ثابت شي.

په حد شبه د تعزير د شبهي سره مقابل کي نه دريږي. ثبوت او قطعي ثبوت په جرمي قضاياو کي د نن عصر د عدالت حتمی غوښتنه او شرط دی.

۴ : تعزير د ذمي لپاره عقوبت بلل اختلافي مسأله ده. نن دقانون پر وړاندې ټول مساوي دي. بياهم ددی مراجعو او کتابو چي حاشيه کي راغلي مشروعيت د کوم قانوني استناد مشروعيت له کومه راغلای.

در تمام حالات فوق مانند سند و اثبات از استعمال تخنيک مدرن، ساينس وتکنالوجي اصلاً بحث و اتکا ذکر نه شده و نتيجه معلوم ميشود که نويسندهٔ اين مقرره، برای تحقق عدالت نسبت به ساينس و تکنالوژی به رأی شخص و حاکم زياد اتکاء کرده و قانونګذاران عصر خفته اند.

در مورد فهم و استعمال اصطلاح ذمی، اهل ذمه و ... نيز اختلافات وجود دارند.

۵ – فقره چي د حد سزا په امام پورې تړاو لري او تعزيري سزا مېره او بادار هم ورکولای شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تبصرى : مېره او بادار... کوم بادار؟ او کوم غلام؟ بیا هم زاړه او له عصره وتلي منابع چي د دنیا په ټولو درسي کتابو کې به بحث او درسی منابعو ایستل شوي اما دلته بیرته تکراریږي.

۷ - توضیحي فقره: د اقرار څخه رجوع به تغزیرکي نه صحیح کیږي... یعنې څه؟

ددي منطق او دده ټراو عدالت سره؟ دمنلو نه دی. ولې د اقرار څخه رجوع ممکنه نه وي؟ **سیستمی اصل مهم که عدالت؟**

۷ - فقره تفاصیل او منطق غواړي او بیا دا حواشي د قرآن کریم کوم تغییرنه منونکي اصول او نصوص نه دی.

۸ - فقره: هرڅه د آزادي محدودیدل د توقیف په شمول **تدبیري اقدام** دی او تدبیري تصمیم د توقیف په شمول ځانته درې ګوني شرایط لري چي د شرائطو د شتون پرته، توقیف نه شي مطالبه کېدای او د په نړېواله کچه دا ګډ منطق لري.

۹ - فقره د اوسني عدالت او امام کار نه دی.

۱۰ - ماده او شفاعت د عدالت او اسلامی عدالت په اصولو کې او د عدالت د اهدافو او مقاصدو پورکیدلو سوال!

۱۱ - ماده بیا هم صرف په شاهد ولاړه او نور مستندات له سره نه کارول کیږي.

بیاهم ددی مراجعو د سندوالی مشروعیت، مرجع؟

**دغه تمامو موارد کې د امربالمعروف ونهی عن المنکر او سارنوالی/څارنوالي د صلاحیتونو تقسیم او ویش مجهول والی شته چي د نني منطق د عدالت پر بنیاد باید تول اتهامات او وارده محدودیتونه د حکومتی مراجعو او د امر بالمعروف په شمول باید د محکمي د بیا مراجعي امکان وجود ولري، چي داسي امکان دلته وجود. نه ښکاري.**

به ۱۲ ماده کي په حقوق العباد کي تعزیرات تداخل نه قبلوي او حدود که له یوه جنسه وي، تداخل قبلوي.

دا ماده کي املایی اوافادوی خطا او دتداخل موضوع کي آسانه بیان شوي، نور تفاصل غواړي او داسي عام نه شي حلیدلای.

۱۴ - ماده کي د ضامن اویا د توقیف نه د خلاصیدو امکان په حدود او تعزیراتو ویشل، عدالت نه شي تأمینوالی او دا کوم شرعی نص او سند نه لري. د کفیل (ضامن) غوښتلو جواز د حق الله او حق العبد خبر نه ده. د جرم د اثبات او عدم اثبات خبر ده او د اثبات او عدم اثبات د حق الله او حق العبد پوري تعلق نه لري. د توقیف د مشروعیت درې ګوني شرایط او د هغو شرایطو د قبول روسته دمحکمي لخوا حالت په پوره ډول له یاده ایستل شوای. داسي ښکاري چي ددي کار تنظیم په مقنن باندي دروند کار وه اوتعقیب یي ورته ګران کار وو.

۱۵ فقره: په تعزیری جزاوو کي د جرم ډول او د مجرم شخصیت ته کتل کیږي. استناد قوي نه دی او د عدالت مسأله د سوال لاندي راولي. د نړی په قوانینو کي د قانون په چوکات کي د حد اقل او حد الاکثرجزا به چوکاټ کي د جزا د حد اکثر کېدو او یا یا حد اقل کېدو امکان او شرایط ښکار او تشخیص کېدونکی، مشخص او ځانګړي شوي دي. دلته کار کار نه دی شوای او موجود میکانیزم د تشخیص وړ نه دی.

پنځمه ماده: د اثباط طریقي په حق الله او حق العبد ویشل د دقت وړ او منابع د عصر سره سم تنظیم شوای نه دي. د ټولو نه د مخه په اقرار او اشخاصو شهادت اتکا لري. د اثبات لارې د ستر بحث لاندي د اوسني عصر امکاناتو ته اولویت نه ورکوي.

مدرنو قوانینو کي د اقرار سره سره (د تذکیي په خاطر) مسطنتق مکلف دی جرم د اقرار علت او أنګیزه په نورو دلایلواو مستنداتو اثباط کړي او بوازي په اقرار اکتفاء و نه کړي.

داومي مادي د لمړی مادې لمړی فقره قوي ده، غالب ګمان نه بلکی په یقین په تمامو حالاتو کي ثبوت حتمی دی.

د مجرد جرح په جهت د شاهدانو رد: دا وارده جرحه نه ده او شرعی نص او منطقی استناد باندي له استثناء پرته، منطق نه لري او مستنده په هر حالت کي د قبول وړ فیصله نه ده.

دوهم فصل:

... د جاني په اعتبار د تعزیر مرتبي: ښه جمله نه ده.

نهمه ماده: د جاني په اعتبار تعزیر لاندي مرتبي لري:

د۱/ علماوو او لوړ رتبه خلکو، تعزیر ( د قاضي څخه په خبرداري **(داری)** سره دی**!** ماته خبر رسیدلی دی چي ته داسي او داسي ... کارونه کوې.

**تبصره:** دا محاکمو او دولتی ادارو کار نه دی دا د وعظ او نصیحت بحث او د دولتداری مفاهیم سره ګډوي. او دا دواړه نه ګډول په کار دي. دا داماو او موعظ او ملا کار دی او حکومت قانون تطبیقوي.

۲/ د اشرافو؛ لکه د قبیلو (قبیلو – یا نادرسته ده) د مشرانوتعزیر. د ذکر شویو خلکو تعزیر له لوري په خبر ورکولو او محکمي ته به ورغوښتلو سره دی؛

**تبصره**: بیا هم له اثباته پرته اتهام او له محاکمي پرته د موعظ وظیفه د قاضي په غاړه اچول.

۳- د ټولني د متوسطو خلکو تعزیر: د ذکرشویو خلکو تعزیر محکمي ته په ورغوښتلو او به بندي کولو سره دی؛



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

**تبصره:** دلته بيا د بندي کولوبحث له کوم اثبات پروسي پرته، لنډنيول شواى او دا د عدالت سره به ټکر کي دى. دا ورته اجراات د کومي شخصي ډلي د داخلي کړو داخلي قواعد او خطوط کېداى شي، خو ديو هيواد دجزايي سيستم مقرره نه شي کېداى.

۴- دټولني د ټيټو خلکو تعزير: د ذکر شويو خلکو تعزير په تهديدولو او وهلو سره دى، البته که دوهلوتعزير به نهايي اندازه کي و **(وو)** لکه نهه دېرش (۳۹) دُرې بيا دي مجرم د بدن پر يوه ځاى نه وهل کېږي.

**تبصره:** دلته د کوم تخلف د اثبات بحث له سره نه شته، اوپه مستقيمه توګه ۳۹ دُرو بحث او حکم د نهايي کېدو نه مخکي ۳۹ مادو د وهلو بحث مطرح شواى دى. او د اثبات نه مخکي د مجرم اصطلاح هماغه د اردو ژبي له ادبياتو تر تأثير لاندي کارول شوي. او دلته د کليوالي عدالت او ابتدايى حقوقى کليوالي عدالت قواعد په نظر کي نيول شوي چي ددي عصر د عدالت د اصولو سره داسلام د عدالت سره سم او برابر نه دي تنظيم شوى.

د نن عدالت سره دا څلور تقسيمات او د هغو درجه بندي معيار دمنلو وړ نه دى. د وهلو او ټکولو حدود او ثغور چي له کومه پيل او چېرته پاى ته رسي او د ممکن مرګ او ژوبلي په صورت کي د مجري دخدمت به خطر اچولو حالت هم مطرح دى چي عمل کي واقع شواى. د طالب يو مبارز په خپله تلويزيوني مرکه کي تېر کال دحالاتو نه شاکي وو چي له دندي ګوښه شواى او منفک شواى چي اوس کوم عايد نه لري. نو طالب فعال چي ددوى په نظر متخلف ته د وهلو حق ورکړل شواى نو د مرګ او جدي زخم خبر او حالت هم منځ ته راتلاى شي، چي راغلاى او دا د عدالت د تامين مسأله نه شي تأمينوالي.

**مُنکَر تولنه کي شته اويا نه شته؟** چي شته معاقبه او تعزير د قشر اوطبقي پربيناد ويشل، د قشر او طبقى فرق نه پېژندل د نن عدالت سره دا ويش د منلو وړ نه دى.

د متخلف کس ته د جاني اصطلاح کارول ډېر شديد کلمه ده. د اوسنيو قوانينو به اصطلاح کي د جنايت جنحه او قباحت دري او جاني کلمات جدا جدا مفاهيم شته چي عادلانه دي. ددي لغاتو لغوي او اصطلاحى معانى په عربي ژبه او قانوني او نتني فهم کي متفاوت دى او دا يو شان کول او ورته پواځي د جاني او ګويا قاتل اصطلاح کارول انصاف نه دى.

د نهمي مادي لمړى فقره کي مربوطه (۲) حاشيه: ددي حکم منبع رد المختار ج ۶ صفحه ۹۷ بلل شوي. په کوم فرمان او کوم قانوني او دينى سند او مشروع مرجع کي دا مرجع د قانون مشروع مرجع ګڼل کيږي او څومره دهغه وخت د عدالت امکانات د نن د عدالت د امکاناتو، مدرنو امکاناتو، سره مطابقت لري؟ او بيا هم دعدالت د تأمين مستندات او وسايل د قرآن کريم او سنت رسول الله ص په روښنايي کي مستندات راوړل پکار دى او له سره دا توضيح په قانون کي ځاى نه لري او يا کېداى شي جدا توضيحى کتاب وليکل شي چي عدالت هم په هغه کي لمړى ځاى ولري.

د احمدشاه ابدالي په وخت کي طبعي اتوريتي اواشراف او نن د بهرنيو منابعو په لاس، ظالم او چورواکي اشرافو او لوړرتبه، وطن پلورو او عزت پلورو ته د أشرافو او لوړ مقام خاوندانو خطاب، کېداى شي معياروګرځول شي او دا ويش او تقسيم به څوک او څنګه کوي چي د هغه په تناست د دُرو د وهلو مقدار او مجازات وسنجول شي؟ او داطبقي او قشرونه به په کوم معيار، کومه مرجع او کله پورته او کښته کوي؟ له سره اوس اوس غير عملي او کليوالي عدالت؟! چي د اسلامى عدالت ټاپه پرې وهل د منلو نه ده. هغه چي پرون قاتل او جاني او دټولني د منحطو ډلو او افرادو څخه شمېر کيده او په پټو او براﻻ جناياتو کي حتى د برق د پايو په انفجار ورکولو په هر انفجار پيسي ترلاسه کړي او نن اشراف شو، د ملکيت او دالرو خاوند شو، نو اوس ستاسي ددي تقسيماتو پر اساس اشراف ا ومشران دي؟!

قبيله او مشرانو مفاهيم په نن عصر کي له سره څنګه ثابت ټاکل کېداى شي او دا مفاهم اوس اوس ﻻ هم د محتوا لحاظه او دطبعى اتوريتو په ډول شته؟ له ترحمه مننه چي دا ۳۹ دُرې د بدن په يو ځاى، سر او غليظ عورت، کي ونه وهل شي. له ده هم مننه چي ردالمختار ؟؟صيب؟؟ ليکي: و تعزير الاشراف: و هم نحو الدهاقين. ( د اشرافوتعزير د دهاقينو په شان دى.) اوس نو دهقانون ته هغه د طبقاتي ټولني پر حساب په ټيټه کتل اويا دوى ټيټ خلک ګڼل د اسلامى عدالت کوم معيار سره برابر دى؟

و تعزير الاوساط وهم السوقة و الجر و الحبس (رد المختار...). د قرآن کريم لفظ او محتوا مقدسه ده خو هره بله عربى جمله او کلام مقدس، شرعى نصر او مرجع نه ده. دا پورته د رد المختار متن دى، نه قرآني نصوص. تاسي د بيسوادانو سره مواجه نه ياست چي ورته عربي جمله ووايأست او ختم، سند شو!

او بيا هغه باعزت اشراف او با عزته لوړ عزته افغانان چي د فساد، شرارت او بديو کي د نه لاس لرلو په وجه د ټولني اوسني دستاسو د دي مقررې اوقانون پر بنياد د ټولني د ټيټو خلکو په قطار کي ددوى د غوښتني او انتخاب نه پرته قرار لري، د سهار او د غرمي ډوډۍ ته محتاج، کور نه لري او ددي محاسبي پر بيناد هر ضعيف او ورکي درامد او کار کولو ته محتاج دي د تېرو حاکميتو باعزته، صادق وزير عدليه ترکاري فروشي کوى او جنرال يي کراچي واني، نو دا ټيټ؟! خلکو چي غلا او جنايت ونه کړ، رشوت و نه خوړه او په مزار شريف کي هفته وار د مافيايى عوايد او د ګمرک ټيکه نه لرله نو دا کسان اوس تاسي هم ددي مقررې به وجه ناکام او ټيټه طبقه او قشر



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

بولئ او مجازات ورته د قاضي د تثبيت او خوښي پر بنياد په ټيټه کټګوري کې راوستل او مجازات ورکولو محکوم کړي؟ دا نو عدالت نه شو.
باید په جزایی برخه کې سیستم او قانون هم ددې په حق بی عدالتی وکړي او د لیلي د دشتي قاتلان په اشرافو او د مشرانو او معززینو به پله کې حساب او ورته د تخلف د اثبات په صورت کې هم امتیاز ورکړل شي، ډُرې یې لړې او زیاتي شي؟ دا تاسي څه وایاست؟
د فزیکی تعذیب بحث خپله جدا بحث او مختلف اړخونه لري. بیا هم سیدنا عمر رض د یو سارق د لاس د قطع تعلیق مسئله د یوکال لپاره د قحطی په وجهه او حالت کې، خپله ستر اسلامی عدالتی درسونه دي چې باید او ورته دقت وشي.
همدا رنګه په لسمه ماده کې راغلي:
د جنایت په اعتبار د تغزیر ډولونه
لسمه ماده: ۱-۲-تعزیر په هغه جنایت کې چې خالص حق العبد وي؟
تبصره: د قانون یوه د ځلورو اهدافو څخه د ټولني او افرادو تربیت هم دی. هغه چې د چا حق خوري هغه د ټولني نظم خرابوي او د حق الله مسئله هم ورسره مطرح ده او خالصه حق العبد د حق الله او د ټولني د حق سره تړاو لري او باید ولري.
هر تخلف ته د جنایت کلمه کارول او د مظنون، مشکوک، متهم د جنایی جرم او مجرم کلمات او اصطلاحات کارول د اردو ژبی تر تأثیر لاندي او غیر دقیق اصطلاحات اوکلمات کارول دي.
یوولسمه ماده: (۱)، (۲)، (۳)
تبصره: دلته کله قوس او کله .... استعمال شوي، توحید مراعات شوای نه دی.
دوهمه فقره: کې په حقوق الله کې د تعزیر تطبیق هغه وخت لازم دی چې د جاني اصلاح له تعزیر پرته ممکن نه وي... توبي آثار...قاضي کولای شي تعزیر یي ترک کړي.
تبصره: جاني او د توبی اثارو معلومول په قطعی ډول په حقوق الله کې د تعزیر تعویق او د قاضي خلاص صلاحیت ، دلته د توبي آثار او د تعزیر ترک او د قاضي د العیاذ بالله د علم غیب مرتبه، د تعزیر ترک ... واقعاً په ډیرو داسي مواردو کې عدالت باندي ملنډي وهل دي. قاضي د قانون تطبیق د مطرحو شروط په چوکات کې کوي او داسي خلاص فرصت، عدالت نه شي تأمینولای او داسي قاضي هم ژر د طعن او شک لاندې راتلای شي.
په دریمه فقره کې د ابراء بحث او هلته د ټولني د نظم د خرابولو خبرې او جانب مسکوت والی د پام وړ دی.
ټولو حواشیو کې د جناب مجاهد د تأکید خلاف چې هغووي نور څه نه دي کړي را حواشي یې ژباړلي چې ټول پرې خبر شي او بس. او خو داحواشي نه دي ژباړل شوي او ډېر ځلي عربی پاتي دي. دوهم دا متون عربي متون او د کتاب الله او سنت رسول الله نصوص نه دي. د بعضي مجتهدینو د عصر سره سم څېړني او نظریات دي چې دهغه وخت د پرمختګ او امکاناتو په چوکات کې شاید منطق لره اما دنن مدرنو امکاناتو په چوکاټ کې هغه یو یو څېړل او نوي نتایجو او پایلو ته رسیدل او له هغو نه هم معقوله استفاده کول کوم ممانعت او مشکل نه دي اما داسي کاپي کول او اجرا ته وړاندي کول د عدالت د تأمین موجب نه کېږي او ډېرو مواردو کې نن غیر عملي دي!
یوولسمه ماده: په دوهمه توضیحی حاشیه کې اقرارپه ډیرو سختو تخلفاتو او جنایت کې لکه چې ډېر سخت او جبران نه کیدونکی عواقب لري، د ثبوت سند تاکل شوای. د نړی په اوسني عدالتي سیستم کې د اقرار سره سره د مستنطق وظیفه ده چې داقرار سره سره باید د جرم او تخلف انګیزه او نور دلیل تثبت او پیدا کړي او په اقرار باندې بسنده نه شي. دغه حالت لپاره ډېر بلاشکه دلایل شته.
( همداسي پا ورقی کې راغلي): الحد لایقبل الاسقاط مطلقاً بعد ثبوت سببه عندالحاکم و علی هذا یبنی عدم جواز شفاغة فیه فانها طلب ترک الواجب. ( فتاوی الحدود...)
داسي مطلق حکم صادرول او مطلق ویل چې عمل کې لسهاو نور امکانات او یا د حدودي جرم د تحمیل او اجبار امکان هم شته او دلته مطلق ویل، عدالت باندي ملنډي وهل دي.
دیوولسمي مادې په پینځمه فقره کې هم کېدای شي بعضی استثنائات مطرح شي چې بیا هم مطلق ویل د عدالت او ټولنه کې د تربیتي جانب ته ضرر ورسوي او د تخلف عمدي مسکوت پاتي کېدو ته مرسته وکړي. اما اصل چې دعوی نه وي له دعوا پرته مجازات هم نه شته ډېر مهم اصل دی.
دیارلسمه ماده کې د محتسب ( امربالمعروف و نهی عن المنکر کمیټي) او د څارنوالی وظایف خلط او مزج ښکاري او دا حدود نه دي روښانه شوي (توضیحی پاورقي ته مراجعه وشي!). آیا د سینما ننوتل د همدې حکم لاندې تر سره شوه یا په اوسني عصر کې له داسي ځایه ښه نظارت وشي چې فساد او شرارت په کې ونه شي؟ د سپږې لپاره پوستین سوځول درست کار دی؟
توضیحی ۵ فقره: عن اصحابنا فمن اعتاد بانواع الفساد یهدم علیه بیته ( سراجیه) په فاسد باندې دې کور ونړول شي.
نو بیا به داکور په دولتی مصرف د مړي د پیدا کولو لپاره له تمرکز او مصرف کیږي؟ دا نو څه شوه؟ دا د نن


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

عصر عدالت شو؟ کور که شهر نو دکابل او مرکز کي وي او قاضي دا صلاحيت لري نو بيا څه؟ قاضي خو صلاحيت لري!
د ديارلسمي مادې څلورمه فقره کي دلته د محتسب او څارنوال وظايف سره ګډوي او يا څنګه؟
په ۵ فقره کي کور په مفسد نږول د سراجيه په حکم، دهغه ننني عواقب به کوم شرعي بنيادي نصوصو کي راغلي او ددې عصر جوابګو دي؟
د عامه مصلحت به خاطر په قتل سره تعزير: څوارلسمه ماده: ډېره خطرناکه او ډېر ځلي د داسي خطرناک کسان بيا ملي اتلان او د هغوی ځلي جوړ او عزت شوای. دغه برخه کي داسي ساده حکم د عدالت توهين دی. آيا د ليلي د دشتي شهيدان او د هغوي قتل ددې تعزيری مجازاتو د صحت او يا عدم صحت يوه کره بيلګه نه ده؟
دا توپلي اوه که ... فقرې ډېر ځلي غلطی او ناروا کارول شوي او دغه برخه کي د انسان ژوند ته په ټيټه سترګه کتل شوي. الله تعالی قادر او لايزال ذات دي او د کن په فيکن سره هرڅه کېدای شي. ددنيا لنډ فرصت او اسلام دين ، هدايت او انساني عقل او د انسان انتخاب اوهغه په نتيجه او پايله د الله ج عدالت او دلته ددې مادې لنډ احکامو سره په تناقض او بعضي موارد کي د سختي سؤ استفادې موجب شوي او لا هم جدي تهديد ته فرصت ورکول دي. ددې مادي ۴ فقره ډېر ځلي په ناروا توګه کارول شوی او اسلامي محققين دغه برخه کي د اصلاح مختلف پړاونه او توضيحي کار ته ارجحيت ورکوي. ۶ ماده بياهم د سؤ استفادې فرصت پراخوي. ۷ فقره کي د وژني سره تعزيرات د ستر بحث موجب ده. دلته فقرې غلطي شوي هم دي.
دريم فصل:
دمطلق جاني لپاره تعزير: تبصره: مطلق جاني څوک دی؟
پنځلسمه ماده: جاني حُر وي که غلام.......
تبصره: اوس اوس غُلام له کومه کړو؟ تخلف د نارينه او ښځينه فرق کوي؟ دبالغ او عاقل او کوچني تول د تعزير مستحق، يعنی څه؟ دا خو عدالت نه شو چي معذور مجازات شي! کوچني عاقل ته د تعزير تأديب بحث ډېرپراخ او جزايي مسؤليت عمر له کومه عمره پيليږی دا هغه موارد دي چي له سره حل شوي نه دي.
شپاړسمه ماده: د انبياء عليه السلام مرتبه او مقام ډېر لو او د چا په توهين نه شي راټيټدلای. به توله نړی د انسانان پر مقدساتو توهين او تجاوز ضد قانونی عمل دی. داچي توهين له کومه مرحلي پيل او تعريف يي څه دی او فاعل يي څه هدف او موخه لري او د هغو مقابل کي اسلامی درست عمل څه دی او مستقيم داسي کس ته د مرتد خطاب، دا کنتراپرودکتيف اومطلوبی پايلي نه لري. د نړی د مليارد انسانانو به زړه کي د اسلام مقدس دين به زور او تهديد نه ننوځي. ت د اسلام دين د صلي او عاطفی دين او دلته تنويري او توضحي کار ته بايد اولويت ورکړل شي.
اعتقاد او ايمان قلبی رابطه ده او که څوک فتنه ونه کړي مسلم وي او مؤمن نه وي د هر چا خپل کار او پرزړونو الله متعال دانا دی. نو دغه برخه کي لنډ، قاطع حکم کي دقت په کار دی. له توبې ايستلو پر شپږکالو حبس او دا هم تثبيت نه شي چي د توبې محتوا او د څه شي نه توبه وه.... ډېر سهل او غيرجدي نيول د قضاياو او سخت مضر ثابتېدای شي. دقت په کار دی. په دي توګه ډېرو مفسدينو ته د پناهندګی سند خپله په لاس مه ورکوئ.
د سپاړسمي مادي دوهمه فقره او قطعی ۶ کاله حبس راته مناسبه جزا او تعزير سخت پارونکی حالت پاروي او سفارش يي نه کوم، مرحله ای او هر اړخيزې کتني ته اړتيا شته.
اوولسمه ماده: د مقدسو ورځو، اسلامی شعائررو او علماوو توهين کوونکي لپاره تعزيز
تبصره: دامفاهيم عام او ډېر ځلي تعريف شوي نه دي. مقدسي ورځي، توهين او... نو دا حکم د سختو سؤ استفادو زمينه سازی او موجب ، چي د قبول وړ نه دی. بياهم مستندي منابع کتابونه دي چي د عصر او امکاناتو سره برابر نه دی ا و قرآن کريم او سنت رسول الله ص پرځای په دغه کتابو چي د حالاتو قرباني دي، استناد شوای دی.
ددې مادې دريمه فقره په ځانګړي توګه په هر انتقادي نظر باندي دسؤاستفادې زمينه سازه ده.
په مباحاتو کي د امام د امر مخالفت کوونکو لپاره تعزير:
بيا هم د سؤ استفادې موجب او مطلق العناني ته خدمت او مضر دی. اختلاف أمتي رحمة ( زما د امت اختلاف رحمت دی).
د نورو امراوو د اوامرو څخه مخالفت کوونکی لپاره تعزير:
۲۱ ـــ ۲۲ مادي
دا ماده د سخت او شديدې سؤ استفادې زمينه برابروی او دلته قاضی أمر ښکاري او يا معلوم هم نه دی.
ددې مادې بعضي موارد د کار په قانون کي روښانه کېږي او دلته ورته ځای نه شته.
۲۳ ماده .... قاضي دي په لس ورځوحبس محکوم کړي ... د جرم له اثباته پرته توقيف تدبيری اجراات دی او دي کي معين قبول شوي شرايط بايد مراعات او له وطنه نبايد زندان جوړ شي.
مطلق حکم د سؤ استفادې وسيع سؤ استفاده برابری او مطلق العنانی ته لار هواروي. دا لسګوني استثنات لرلای شي او د اثبات پروسه او د مشروع دفاع حق او د موجوده غير يونفورم مأمورينو او منسوبينو په شتون کي د عدالت ضد


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پاړوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

حالات راپاروي. (زمايو مؤکل د پوليسو پروهلو متهم وو. د پوليسو له اقرار اخيستو نه مې پرې ثابته کړه چې ګناه د بې دريشي پوليس د پروتوکل عدم مراعات وو او مؤکل مې برى اعلان شو!).
د مخالفينو خلاف د نه اقدام او نه اطلاع ورکوونکو لپاره تعزير
۲۴ ماده، ۲۵ ماده، ۲۶ ماده ( له حنفي مذهب څخه د وتلو ۲ کاله حبس جزا).
۲۷ ماده ( بدعت او د هغه مشخص دقيق او بلادغږي تعريف؟)
۳۰ ماده، ۳۱ ماده، ۳۲ ماده ( ضرب فاحش او مراعات يې؟)
مخالف او موافق څوک او کوم اقدام او څنګه د سؤاستفادې پراخ زمينه ساز او د ريښتنى امنيت خلاف حالت دى.
داچې يو کس دې د ځانګړي او مشخص مذهب پيرو او باید او بايد حتمی د هماغه مذهب پيرو پاتې شي. شرعی فتوا او استناد کوم دى؟
د پلار او نيکه لپاره تعزير: ۳۵ ماده:
تبصره: د چا وهل يو عام حکم نه – څوک څوک وهلای شي او د هغه حد او د فزيکی مجازاتو حد د ستر بحث موجب دى او داسې لنډ نه حليږي – بايد ځانته مقررې ته دا ټول موارد حواله ورکړل شي!
۳۶ ماده...، چاته د فاسق خطاب په نرۍ کې په عمده ډول د توبيخ او يادونې په توګه محلي حاکميت کې څېړل او حليږي.
۳۷ – ۳۸ ماده... ښځو ته بد کتل او يا ښځې نارينه ته بدل کتل له کومه پېليږي او چېرې ختميږي او دلته د همسايه ښځې او غير همسايه ښځې د حکم تفکيک او جدا مادې د وقت ضياع ده. تخلف تخلف او د اول نظراو دوم نظر او د امربالمعروف اونهى عنى المنکر وظيفه او د قضا او دې قانون/ مقررې ذکر را ته د امور او وظايف خلط او مزج او په خپل لاس د احکامو مغالطه او کيچول دى.
د فساقو سره د تعلق لرونکى تعزير، ۴۰ ماده
څنګه دا تعلق تعريف شي او چېرې دا تعلق تعلق او چېرى تصادفى او .... د وقت ضياع بحث دى. د نصيحت او اخلاقو مسايل د قانون سره مغالطه کول دي. واعظ، محتسب او د امام مسجد ته ددې تنويري کارولپاره وعظ او نصيحت به کار دى. نه به قانون کې مواد او مندرجات.
۴۰ ماده ...، د سوء استفادې او عدم اثبات امکانات لوړوي. د امام او نصيحت په چوکاټو کې پاتې شي. د تکرار او مکرر تخلف په صورت کې د غير موجه حالت بل دى.
دو څلوېښتمه ماده
دوه څلوېښتمه ماده: لس کاله حبس... ولې اعدام نه. دلته بايد د حالاتو په کتلو قاضي ته د اختيار ورکولو شرايط ورکړل شي.
تبصره: دلته بيا کلک او مشخص حکم وشو او هغه لس کاله حبس او هيڅ حالات په نظر کې نه دي نيول شوي. د سختې سوء استفادې موجب کېدای شی.
۴۳ ماده قاچاقبر څوک او له کومه ځای قاچاقبر او له کومه ځايه نجات ورکوونکی شو او کېدای شي؟ د سوء استفادې موجب کېدای شي او شوي.
۴۴ ماده له دعوې پرته تعزير نه شته او دلته ترعفوې روسته يوکال حبس هماغه د تولني نظم چې يو کال ورته کم ښکاري.
بيا هم په دغو مواردو کې د سند په توګه عربي متون او فتاوې راوستل حقوقي بنياد نه لري.
۴۵ ماده: ...، ۴۶ ماده د جزا دقانون مواد
۴۷ ماده: که يو شخص په غلا، قتل او زنا متهم او مشهور وي او يا د خلکو د نفسونو، مالونو او حيواناتو په هلاکولو مشهور وي، قاضى دى د توبې د آثارو د ښکاره کېدلو په موخه ترېوکال پورې په حبس محکوم کړي.
تبصره: متهم او مشهور په فساد به حبس محکومول او هغه کومه کتګوري حبس په عدالت ملنډې وهل دي. ( دزد ګفتن و باز بستن شو!). په دې تړاو د ددې مادې په هکله ۵ حاشيه غلطه ژباړل شوی له حبس نه مخکې د اثبات مفهوم چې جمله کې مضمر دي له سره د دې مادې په حکم کې نه دي راوړل شواى او دا ستره تېروتنه ده.
۴۹ ماده: ... قاضي په بله محکمه کې په لس ورځې او يا درې مياشتې حبس محکوم شي؟! د قاضى منصب او مقام او د هغه د حبس شرايط به جدا اصولنامه او مقرراتو کې تنظيميږي. که قاضي وي نو متن کې د قاضي کلمه راوړل حتمی بلم. داسې قاضي به څنګه قضاوت وکړي چې خپله بله محکمه کې لس ورځې اويا درې مياشتې زندانی کيږي؟!
داسې انقلابي عدالت او داسې بې تضمينه قضاء او ساده، آسانه د قاضي زنداني کولو سيستم جدي نه دى او نه شي چلېدلای.
۵۰ ماده: د اثبات نه پرته کلمه راوړل پکار دي. دلته ۵ ورځې حبس د شفاهی شخړې او چا پيل کړ... د سؤ استفادې موجب ګرځي او ساده خبر نه ده.
۵۱ ماده: مطلق حکم د سوء استفادى موجب او فرصت.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

د مرتدي ښځي لپاره تعزير: ۵۸ ماده: مرتد مرتد دی. ولي ښځه او ولي نارينه؟ دلته د تنويری کار خبر او د ارتداد د اثبات بحث له سره مطرح نه شو.
۵۹ ماده: رقص څه او څنګه د سوء استفادي وړ او فرصت دی. او کېدای شو له دوه ورځو تر دوه مياشتو توقيف اويا حبس. ما مطلق دوه مياشتي حبس د حبس ساده ګڼل دي.
۶۳ ماده کي حکومتی چاروا‌کی هم شامل دی او د حکومتی چاروا‌کی د چا کور ته د داخلېدو شرايط او مقرره کوم ځای او يا تنظيم شوي؟
بيا هم د حبس حد اکثر ښودل او قاضی ته د فرصت چي له دوه مياشتو تر دري مياشتو جزا ورکول فرصت ورکړل شي بايد عدالت نړدی وي.
۷۵ ماده: د پيره دار لپاره تعزير به نورو قوانينو کي دولت د مامورينو او پوليسو په قانون کي دسخت جزا موجب کېږی او دلته نه راځي. که منظور دروازه وان او ملکی کس وي بيا بحث بل دی اما دلته عنوان عام دی.
۷۵ ماده: مديون د قرض لپاره زندانی کول د منلو وړ نه دی.
۷۷ – ۷۸ ماده نظامی او پوځي تجهيزات به جدا قوانينو کي ستر مجازات تنظيمږي دلته يي راوړل خطا کار دی.
۸۸ ماده مديون حبسول د منلو وړ نه دي.
په فرمانونو، حکمونو، هداياتو ، مصوباتو او د محکمو فيصلو کي د جعلاو تزوير د مرتکب حکمونه
۸۲ ماده: دا تخلفات او د هغوي تقسيمات د دولتی مقاماتو پر بنياد خطا او غير سيتماتيک تقسيمات دي. د رسيدلي ضرر، خطراواهميت او دا چي چاته څومره ګټه تر لاسه شوي يوه ماده کفايت کوله او دا تفاصيل د حکومتی چارواکو بې ځايه وخت ضايع کول او د خبري اوږدول دي.
پنځم فصل:
د نشه يی توکو اړوند متفرقه حکمونه
دابتدايه محکمي د حکم قطعيت:
۱۰۹ ماده:..، د نشه يی موادو د جزاګانو په هلکه د ابتدائيه محکمي حکم قطقي دی.
تبصره: دلته قطعی يعنی څه؟ هرحکم قطعی وي. منظور مو نهايی دی؟ مرافعه طلبی نه لري؟ که نه لري د عدالت مخنيوی کيږي. که کبړي شرايط کوم دی. که دا حکم نهايی وی او د مرافعي استثناء وجود ونه لري عدالت نه شي تأمينېدلای. تفاصيل زيات شته!
۱۱۱ ماده: د نشه ايی توکو اصلی مالک ته به هغه اندازه سزا ورکول کيږي کومه چي انتقالوونکی ته ورکول کيږي که څه هم په انتقال کي ورسره نه وي.
تبصره: دا ماده کي ډېر عدالتی مشکلات راځي او د اثبات موضوع له سره نه ده په ګوته شوي. لسهاو استثناآت مطرح کېدای شي.
۱۱۱ ماده: دلته د خاص قانون تر نظر لاندي له منځه وړبايد ذکر شوی وای.
۱۱۳ ديارلسمه ماده: د مسؤلينو او موظفينو جزاګاني لوړې او خاصو محاکمو کي وي. دلته ټول په يوه قانون کي راغلي چي ډېرځلي عادي محاکم د تاثير لاندي راځي.
۱۱۶ ماده: د متکرر مجرم حکم په عام ډول تعين شي او دلته د مخدره مواد لپاره جدا ماده راته غير ضروري ښکاری او کار سيستماتيک نه حلوي.
۱۱۷ ماده: دغه مقررې ته دلته اصولنامه خطاب شوی کله مقرره شي او کله قانون. توحيد نه شته.
ځانګړي حکمونو د ښه تطبيق طرزالعمل په کومو موارد کي، ځانکړي شوای نه دی!
تعديل يا لغوه:
۱۱۸ ماده: ددي اصولنامي د حکمونو تعديل يا لغوه، د تقنيني پړاوونو له تېرولو څخه وروسته، د عاليقدر امير المؤمنين خفظه الله تعالی حضور ته د توشيح لپاره وړاندې کيږي.
تبصره: معلومه نه شوه چي دا تقنيني پړاوونه شته او که شته چيري او څنګ مشروع اجرائيوي شوي او يا نشر شوي دي؟
داصولنامو ، مقرراتو، قوانينو او د هغوی قوت او ضعف چي کوم د کوم تابع دي او بنياد چيری دی دا هم د تدقيق او دقت وړبحث دی چي د اساسي قانون په نه شتون کي دا ټول څنګه تنظيمېدای شي.
۱۱۹ ماده:
تنفيذ د امضاء او توشيح سره سم او که د توشيح او رسمی جريدې کي د نشر سره سم نافذ بلل کيږي. دلته خو اوس بواځي د توسيح سره نافذ بلل شوای دی.
ين
نوې اضافي ماده بايد وي: هغه مواردو کي چي دغه اصولنامه او مقرره کي ذکر نه دی راغلی اجراأت پر کوم بنياد او اساس کيږي. طالب مشران به په ځغرده ځواب راکړي چي د اسلامي شريعت، د قرآن کريم او سنت رسول الله او


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

د امام ابوحنیفه رحمه د مذهب پر بنیاد. اما دقانون تر حاکمیت لاندې د مدون او ښکاره مندرجات ذکر هماغسې چې ددې لیکنې په عنوان او سرلیک کې راغلای، ضروري او اړین دی.
اړین ښکاری او ضرور دی چې دغه او نورو دولتي او دولتداری برخو کې با صلاحیتهٔ کمیټه جوړه او ددې اصولنامې بنیادي او کره کتنه وکړي او د بیا توشېح لپاره آماده کړي.
دا اصولنامه په هره پاڼه ټاپه او مهر پر متن د اصولنامې راغلای چې بعضې موارد بیا له دې کبله متن نه لوستل کېږي. بهتر به وي چې مهر دپاڼې په آخر دمتن روسته، متصل راشي!
دا وې پورته ځغلنده کره کتنې او تبصرې چې د کار د وسعت له وجهې بیا جدي مراجعه پرې ډېر وخت او کار ته اړتیا لیدل کېده.
امید واریم د طالب دیفکتو حاکمیت دده شهامت خپل کړي چې د تیروتنو د اصلاح لپاره په موقع اقدام وکړي او دا اصولنامه دېوې مسودې او الترناتیف به توګه با صلاحیته کم حقوق پوهه کمېټې ته د بیا کتنې لپاره تنظیم کړي. دا او ورته حقوقي سندونه هغه منطقي او قانوني مطالبه او اړتیا ده چې د امن او قانونیت لاندې د ژوند ممد او مرستندوی دي.
افراطی عناصرو شتون او دلته او هلته د منتقدین او مخالفین علنی ترور او وژنه د عفوي فرمان د مندرجاتو خلاف هغه موارد دې چې سوسیال میدیا کې پوره مستندات شته. هوښیار او باصلاحیته کسان هغه وخت له دې مسؤلیته ځان بري کولای شي چې بیا بیا تأکید وکړي زمونږ د عفوی فرمان نافذ دیا او دا انتقامي او کړنې زمونږ سیاست نه دی او د منکرمقابل کې مخالفت او مبارزه د هر چا کار نه دی او د حاکمیت صلاحیت دی او دغو مواردوکې چې مستندات شته، متخلف ته په دغو مواردوکې جزا ورکړل شوه او دا ئي هم مستندات.
دقانون ترسیوري لاندې حاکمیت د حاکم او رعیت د حاکم او وګړي ته د قانون تر نظر، سیوری او روښنایی لاندې ژوند د مدني او اسلامي اصولو غوښتنه ده او باید تأمین شي.                    بی پایه   پای

و من الله التوفیق
داکتر صلاح الدین سعیدی
د سلواغي ۱۲ د ۱۴۰۴ هجری قمري کال(۲۰۲۶/۰۱/۰۱)
strategicstudies@yahoo.com تیلفون: ۰۰۴۴۷۸۸۶۴۷۴۶۳۸


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ